این کتاب از اصلاح انلاین دانلود شده
شما می توانید از این سایت به هزارها مقالات اسلامی، تحلیلي ، صدها قطعه ترانه ها و سخنرانی های اسلامی و کتاب های مختلف را دانلود کنید
ادرس
www.EslahOnline.Net





**کتاب پېژندنه** :

**دکتاب نوم** : **دسیرت له البم نه خګو انحګورونه**

**مؤلف** : **مرحوم خرم مراد**

**ژباړن** : **سیداختیارسباوون**

**خپرندوی‌ه موسسه** : **جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان**

**تیراژ**: **۲۰۰۰ ټوکه**

**د چاپ نوبت**: **اول**

**د چاپ ټپه**: **لړم ۱۳۸۶ ل**

**ډیزاین** : **جاوید خان امیري**

**آدرس**: **کابل, خوشحال مینه, الف ساحه, د شاداب ظفربلاکونو ترشا**

**موبایل** ۰۷۹۹۳۹۴۰۱۵ / ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

**دیجیتل**: ۰۷۵۲۰۲۱۲۲۱

Email:eslahmilli@gmail.com

# د سیرت له البم نه څو انځورونه

لیکوال: خرم مراد
ژباړه: سید اختیار سباوون







## دژباړونکي څو خبرې

په دغو څو پاڼو کې چې ما ته دژباړې په موخه زما د خواږه ورور ډاکټر سيد خالد راشد له خوا راکړل شوې، ما د خلوص او مېړانې، برداشت او اطاعت، دعوت او داعي، فرد او ټولنې، اخلاقو او کرکټر، پوهې او سادګۍ، ايمان او د هغې د ورتيا، داسې انځورونه وليدل چې د يو مسلمان داعي د ژوندانه موخه او مخه ټاکي.

ښاغلي خرم مراد په دې وړې کتابچې کې په اصطلاح دژوند دبحر ساحلونه په ګوته کړي او له څو زاويو نه يې د اسلام د ستر بلونکي او د انسانيت د ستر محسن صلى الله عليه وسلم دژوندانه داسې انځورونه راټول کړي چې حق د لارې د هر داعي لپاره د لارې مشالونه دي.

د نبوي مبارک سيرت د البوم دغه څوغوره شوي انځورونه مې په دې موخه له اردوڅخه پښتو ته وژباړل چې که په دغه اتومي پيړئ کې د افغانستان بااحساسه مسلمان ځوانان ددې تر لوستو وروسته ددې انځورونو په رڼا او تقليد کې د تکنالوژۍ او پرمختګ څخه کار واخلي، نو دا تمه لرې نه ده چې د يويښتمې پيړۍ محروم او نتلي انسانيت ته به د نياو او عدالت نعمت ور په برخه شي. د بې شمېره خدايانو له بندګي ازاد او يوازې د واحد لاشريک خداى بندګي ته سر ټيټ کړي، له زړونو څخه زر او يو ډارونه ختم او ديوه خداى ډار ته پکې ځاى پاتې شى او داځکه د اسلامى امت دپراخه او درانه مسوليت په اړه به تاسو ددې البوم لومړى انځور وګورئ چې پکې راغلي دي(فكيف اذا جئنا من كل امة بشهيد وجئنا بك على هئولاء شهيدا) ژباړه: او هغه به څه ډول ورځ وي چې له هر امت نه ګواه وراندې شي او بيا ته (حضرت محمد ص) به په ټولو ګواهي ورکوې.

دګواهۍ پراختيا د مسوليت پراختيا او درونوالى څرګندوي چې اداکول يې ځانګړى طرز زندګي غواړى چې ددغه طرز انځورونه په دې البوم کې خرم مراد صاحب راټول کړي او ما يوازې په دې هيله په پشتو ژبه وژباړل چې ددعوت په لارويو کې وشمېرل شم.

والسلام على من اتبع الهدى

سيد اختيار سباوون

کابل افغانستان ـــاوم رمضان ۱۴۲۸ ه ق ـــ۱۳۸٦ل





## دليکوال سريزه

دنولس سوه دوه اتيايم کال په جنوري کې دزړه له دردونکي رنځ څخه روغ راوتلى وم چې په ګلاسکو کې د U K داسلامي تحريک دکلنۍ غونډې د پاى تقرير راکړل شو چې موضوع يې دعوت وه. زه يو څه فکر يورم دشپې مې سوچ وکړ او دسيرت هغه البم چې له يوې مودې راهېسې پرې ما کارکاوه، را په زړه شو په دغه البوم کې مې د ډيرې مودې راهيسې دخپلې خوښې ښايسته انځورونه د خپلې مطالعې او تجربود کامرې په مرسته راټول کړي وو. په دغه انځورونوښايسته زيات انځورونه د اسوه حسنه انځورونه وو چې په بشپړډول يوه دعوتي اسوه ده.بله ورځ مې نيم ساعت تقرير پرې وکړو دا دغونډې دپاى تقريروو يو درووند او ښاغلي ديني عالم مفتي مقبول احمد يې په اړه وويل :

ختامه مسك، وفى ذالك فليتنافس المتنافسون

بيا دنولس سوه دري اتيايم کال په اکتوبر کې په لاهور کې د اسلامى جمعيت طلبه په کلنۍ اجتماع کې دتقرير نوبت راکړل شو نو ما د اسوه حسنه تر عنوان لاندې خپل دغه البم يو څه نور هم پراخه کړ او دغه ځل دا تقرير مې يو چا په ټيپ کې ريکارډ هم کړ او دلاهور( هم قدم )کې چاپ شو، څه موده وروسته د جماعت اسلامى دښځو څانګې له خوا په ډېر تيراژ کې چاپ او ووېشل شو.

ددې تقرير دژبې او ترتيب په اړه ډاډه نه وم او په دې اند وم چې که وخت ياري وکړه نو له سره به پرې بيا کتنه کوم.

دنولسم سوه شپږ اتيايم کال په نومبر کې کراچۍ ته روان وم نو زما خوږ ورور شاهد هاشمي راته وويل که په دغه البم بيا کتنه کوې نو ښه به وي ځکه اسلامي جمعيت طلبه غواړي دا چاپ کړي ما پرې بيا کتنه وکړه او

الحمد لله یو نوی شی تړې جوړ شو، خدای دې په خپل دربار کې قبول کړي او په اخرت کې مرستندویه.

نن داسلامي امت له سره ژوندي کول او د اسلامي تحریك بریالیتوب خو زما په اند په هغه طریقه ددغه دعوت د راخستلو او ودرولو پورې اړه لري دکومې طریقې او کړنلارې ځلا چې په دغه البوم کې په موجودو انځورونو کې ترسترګو کیږي. د دعوت او بلنې سره د زړه د تړاو، دځواب ورکونې د احساس، دخدای له بندګانو سره د مینې ، دساده ژوند ، درب د بندګۍ او دانصاف پیغام..... په همدغو شیانو کې ټول هغه څه رانغښتي چې موږ یې ارزو لرو. که دا وړه کتابچه په ځوانانو، زړو، نارینه، ښځینه او نورو کې داسې شوق پیدا کړي نو دا به زما لویه خوشبختي وي.

څلورم رمضان، ۱۴۰۶ ه ق ـــ ۲۱ مې ۱۹۸۶

خرم مراد لیستر انګلستان





# څو انځورونه

## زما سره یو ډیر زړه رانښکونکی البوم دی !

کله چې زما سترګې په یو ښکلي انځور ولګیږي نو زما زړه وغواړي چې هغه انځور او تصویر همیشه زما سره وي. د خپل ځان سره د ساتنې په موخه یې زه خپل البوم کې کیږدم. دغه راز ښکلي او ښایسته د حسینو او ښکلو خلکو انځورونه له ډیره وخته راهیسې راټولوم او تر دې دمه زما په دغه البوم کې بې شمیره انځورونه راځوړند دي.

زړه مې غواړي چې نن دا البوم خلاص کړم او یو څو انځورونه تاسې ته هم وښایم څو تاسې ترې هم خوند واخلئ.کیدلای شي چې دغه زړه رانښکونکي تصویرونه ستاسې په سترګو کې هم ځای ونیسي، ستاسې زړونه هم ددوی د حسن او جمال بندیان شي. ستاسې لید ودریږي او سترګې مو په کې ښخې شي، زما د البوم څخه دا انځورونه واخلئ او په خپل زړه کی یې ځای پرځای کړئ.

بیا دا انځورونه ستاسې د زړونو تل ته ښکته شي او هلته نقش شي. کله چې بیا تاسي ښه ځیرشئ او وګورئ نو ځان ته به یې نږدې بیانیزې او کله مو چې خوښه وي نو ددغه زړه رانښکونکو منظرو کتنه او سیل کوئ.

څه معلومه ده کیدای شي تاسې ددغه انځورونو په کتو کتو سره پخپله د ښکلا په دغه سانچه کې ننوځئ د کومو عکاسي چې دغه انځورونه کوي.

که دا انځورونه ستاسې خوښ شو نو د زړه له تله مې درته ډالۍ کړي دي. د زړه سره یې ولګوئ، زړه کې ځای ورکړئ او خپل البوم کې یې ځای پرځای کړئ. تاسې ته په درکولو سره یې زما البوم نه خالي کیږي. تاسې به ددې انځورونو په اخستلو کې د کومې کیمرې یا پلیټ او فلم اړتیا

احساس نه کړئ بس یواځې ستاسې د سترګو کیمره او ستاسې د زړه فلم کافي دی.... د انځورونه چې داسې د ځآنګړي ډول درلودونکي دي.

## هر څه ځانګړي دي....

زما دا البوم ډیر ځانګړی البوم دی. بالکل د عامو البومونو څخه جلا ډول. په دې کې څه داسې ښکلې ښکلې پانې نشته او نه کوم داسې ښکلی او سینګارشوی جلد لري، دا کوم غلی او بې ساه البوم نه دی. دا یو پرلپسې خوځنده البوم دی، هیڅ شیبه نه جامد او نه هم کنګل کیږي، په دې البوم کې انځورونه د نفس د تودوخې او د جذباتو د سوز سره ټرلي وي. د ژوندانه د درزا د چوکاټ سره ټرل شوي وي او د وینې د تاویدلو راتاویدلو سره ددې البوم پانې اوړي رااوړي.

تاسې به ارومرو فکر کوئ چې داسې ځانګړی البوم څه ډول البوم دی؟ دا البوم زما زړه دی، زما د ټول وجود مرکز.... رګونه او ریشې هرڅه له همده څخه ساه اخلي، که مینه ده اوکه کرکه، هوډ او عزم دی او که پستي او بې همتي.

دده پانې بې شمیره دي او مقدریې دوام او تلپاتې والی دی.

هو ! هغه ښایست هم ډیرځانګړی ښایست دی چې دغه انځورونو په ځان کې رانغاړلی او ساتلی دی او دا انځورونه هم ډیر ځانګړي انځورونه دي. هسې خو هم په دې نړۍ کې د حسن او ښایست څه کمی نشته ځکه چې خالق یې رحمان، رحیم، جمیل، ښکلی او مصور دی. رنګارنګ ډبرې، لوړې او وړې غونډۍ ,د ګلانو ښکلو ښکلو پانو، په اسمانونو کې ښکلو او ځلیدونکوستورو ته وګورئ، د ځمکې په دې پراخه او پلن فرش باندې وګرځی، په فضا کې الوتونکو مرغانو او پرځمکه ګرځیدونکو ځناوروته کتنه وکړئ، بس په هرځای کې یې حسن او ښکلا اینبې ده. هرشی یې ښکلی او ښایسته جوړکړی دی. هرلورته چې ګورئ بس د ښکلا اوحسن ټوټې دي.





خو زه به تاسې ته ووایم چې پرما باندې کوم شی ترټولوزیات ګران دی او ماته تر هرڅه ډیرښکلی او ښایسته ښکاریږي، کله چې پرې سترګې ولګیږي نو بیا تر اړول امکان نه لري، او کله چې زړه ته راشي نو بیا یې تر ویستل ممکن نه دي؟ پرما خو ښه انسان تر هرڅه ډیر ښه او خوږ لګیږي، د هغه ښه کړندود او ښه اسوه راته ګرانه وي. ددغه حسن او زړه رابښکون به نو څه وایی!!

اوس نو تاسې ووایې چې له هغه څخه بل زیات ښکلی څوک کیدلای شي، د هغه له انځور او تصویر څخه د بل چا تصویر او انځور ښکلی کیدلای شي. هغه انسان چې اسمان تراوسه له هغه څخه په بل کوم بهترین چا باندې سوری نه دی کړی او ځمکه د هغه څخه کوم بل ښه انسان ته غوړیدلې نه ده.

بلغ العلی بکماله　　کشف الدجی بجماله

حسنت جمیع خصاله　　صلوا علیه واله

هغه په خپل کمال کې تر وروستي بریده ورسیده، د هغه د ښایست دوړانګو له برکته تیارې ورکې شوې د هغه ټولې ځانګړتیاوې ښکلې دي، پرهغه او د هغه پر اهل درود ووایی.

د حسن او ښکلا یو ځانګړی شخصیت خو تاسې وپیژنده اوس د هغه ځانګړي تصویرونه او انځورونه وګورئ. د کومې زمانې انځورونه چې زه تاسې ته ښودل غواړم په هغه زمانه کې کیمره نه وه، پر کاغذونو او تیږو به نقاشی کیدله.اوس خو کیمرې او ویډیویي کیمرې رامنځ ته شوې. که ددې زمانې دغه ماشینونه او ویډیویی کیمرې هم موجودې وای نو بیا به هم په دغه ډول ښکلا زما په زړه کې نه وه ځای شوې لکه چې پرته له دوی یې ځای نیولی دی. د کامرې انځور خویو بې روحه انځور وي او د بې روحه انځور سره به څه خپل زړه لګوم. د ویډیو کیمرې تصویر خو حرکت لری خو لکه د ګوډی په څیر حرکات چې د جذباتو او تاثر له تودوخې څخه بیخي خالي وي.

زما د زړه په البوم کې چې کوم انځورونه خوندي دي دا په الفاظو اخستل شوي انځورونه دي. ما چې کوم انځورونه پخپله اخستي او د خپل زړه په البوم کې مې لګولي دي هغه زما د سترګو د کتنو د عکاسۍ د لورینې پوروړي دي، خو هغه انځورونه چې زه یې نن تاسې ته ښودل غواړم د هغوی نقاشي د حسن او ښکلا د دغه ټوټې صلی الله علیه وسلم نړۍ ملګرو په ژوندیو او ښکلو الفاظو کې کړې ده. د سترګو په وړاندې هم راڅرګندیږي، زړونو ته هم کوزیږي، جذبات هم راپاروي، د زړه درزا هم زیاتوي او وینې ته تودوخه او زړه ته اطمینان وربخښي. ددې انځورونو په پرتله نور کوم انځورونه ډیر زړه راښکونکي او د تاثر او اغیزځخه ډک کیدلای شي.

## د مینې په کتو کې هغه اول او اخردی!

دا انځور پرما ډیر ښه لګیږي او پرما ډیر ګران دی

زما هیله داده چې همدا انځور تاسې ته هم زما په شان خوند درکړی او دربانديې ګران شي،بلکې زما په پرتله هم تاسې ته زیات خوښ او تلپاتې ګران شي.مینه د زمان او مکان فاصلې له منځه وړي او انسان د خپل محبوب سره د یوځای کولو توان لري.هغه چې د مینې او رحمت مجسم دی او همغه څوک چې زه یې تاسې ته انځورونه وړاندې کول غواړم پخپله دا زیری ورکړی دی.

د هغه صلی الله علیه وسلم یو ملګری عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمایي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته یو سړی راغی او په خپل زړه کې یې چې کومه پوښتنه وه هغه یې وکړه دا سوال زمونږ زړونو کې هم شته ګویا هغه زمونږ د ټولو له خوا څخه دا پوښتنه کړې وه.

اې د الله رسول صلی الله علیه وسلم! د هغه چا په اړه څه وایی چې د یو چا سره مینه کوي خو وررسیدلای نه شي؟ نه ورسره صحبت وشي، نه ورسره ملاقات شوی وي، نه په عمل کې ورته ورسیده، د زمان، مکان، علم او عمل ټولو واټنونه موجود دي؟.





نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې : المرء مع من احب (بخاري مسلم)سړی به د هغه چا سره وي د چا سره یې چې مینه وي.

دا نړیوالی خو په دې دنیا کې شته دی او که تاسې ته کوم شك او شبه وي نو محبت ورسره وکړئ او بیا وګورئ چې د وخت او ځای دا واټنونه څرنګه له منځه ځي، خو همدا زیری د هغه بلې دنیا د ژوند لپاره هم دی کوم چې تلپاتې او نه خلاصیدونکی ژوند دی.

د نبی کریم صلي الله علیه وسلم یو بل دوست حضرت انس رضی الله عنه فرمایی چې یو بل کس د نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې : قیامت به کله وي؟ هغه صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: چې پوښتنه خو یې کوی خو څه چمتووالی ورته لرې؟ هغه سړي ځواب ورکړ: ما اعددت لها الاانی احب الله و رسوله.زه خو هیڅ چمتو والی نه لرم مګر داچې د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم سره مې مینه ده. نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : انت مع من احببت. ته به د هغه چاسره یې چی ورسره مینه کوې.(بخاري، مسلم)

اوس تاسې ووایئ چې له دې څخه غټه د خوښۍ خبره بله کومه کیدلای شي. پخپله د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د موجودیت په وخت کې چې کله خلکو دا خبره واوریده نو د حضرت انس رضی الله عنه د وینا سره سم د ایمان څخه وروسته په بل هیڅ شي دومره نه وو خوشحاله شوي.

اوس په دې زمانه کې زمونږ په څیر نیمګړو او ګناهګارو انسانانو لپاره چې د آخرت په چمتو والي کې له بل هرچا څخه ډیر وروسته پاتې یو له دې څخه د خوشبختۍ بله ستره کومه خبره کیدلای شي. پس مینه ورسره وکړئ، د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم او د ټولو هغه خلکو چې ددوی خوښونکي دي ملتیا به مو په برخه شي.

نن ورځ د الله رسول صلی الله علیه وسلم زمونږ په منځ کې نشته، خو د هغه صلی الله علیه وسلم خوځنده انځورونه، او بشپړژوند زمونږ په وړاندې دی. د هغه اسوه زمونږ سره ده، که مونږ د هغه صلی الله علیه وسلم د

اسوې سره مینه وکړو، خپلې سترګې پرې ورښخې کړو، په زړه کې ځای ورکړو او بیا خپل ځان د هغه په څیر جوړولو هڅه وکړو نو دې کې بیا هیڅ شك نشته چې مونږ هم ددغه زیري مستحق او وړ وګرځو. سره ددې چې نن ورځ مونږ د هغه په پښو کې نه شو کیناستلای خو دهغه د هر قدم چاپ میندلای شو او په آخرت کې خو به ارومرو هغه سره ناسته پاسته نصیب شي ان شاءالله.

یو بله خبره چې د یادولو وړده، کوم انځورونه چې زه یې تاسې ته ښودل غواړم یواځې خوند او لذت نه عکاسي نه کوي بلکې د درد او غم څپې هم د ځان سره لري.

دغه څپې زما په زړه کې راپورته کیږي او تاو یې تاسې هم احساسولای شئ. دا درد او تاو ولې دی؟ داځکه چې کله زه له یوې خوا دا تصویرونه او انځورونه ګورم او بل پلو خپل ژوند ته کتنه وکړم نو ډیر لوی تفاوت او توپیر وینم چې دا حالت بې واکه زما زړه باندې د غم څپې راولي.غم او درد له دې امله وي چې الله مه کړه داسې خو به نه وي چې زما زړه ددغه شخصیت د محبت څخه خالي وي او کله چې زما سترګې ددغه انځورونو د ښکلا څخه بل پلو ته واوړي نو بیا الله خبر چې کوم کوم لورته منډې وهم. الله مه کړه داسې نه شي چې په دنیا او آخرت کې ددغه ستر انسان له نږدیوالي څخه بې برخې کړل شم یا هم د هغه چا څخه چې زه یې د محبت دعوه لرم او شا شا ته یې منډې ووهم لرې کړل شم.

غواړم د دې انځورونو سره یوځای همدا درد او غم هم تاسې ته ډالۍ کړم. که تاسې انځورونه اخلی نو دا درد او غم هم ورسره واخلئ. شاید تاسې ووایئ چې درد او غم خو څه کوم ښه شی نه دی چې ډالۍ کړل شي خو زه د یوې خبرې ډاډ درکول غواړم او هغه داچې کله تاسې دا درد او غم خپل کړ نو د دنیا او آخرت له ټولو غمونو به خلاصون ومومئ. د **لاخوف علیهم ولاهم یحزنون**. (نه به پردوی ویره وي او نه به دوی غمژن وي) زیری به





بیا ستاسې لپاره بشپړ شي او بیا به تاسې هغه لوړ مقام ته ورسیږئ چې زمونږ د ګران محبوب صلی الله علیه وسلم سره د ملګرتیا مقام دی.

تاسې دې انځورونو ته په داسې ډول کتنه وکړئ چې له یوې خوا یې له کتلو خوند واخلئ، ستاسې زړونه ځان لورته کش کړي، او له بل پلوه ستاسې لپاره د ژوندانه نمونه او معیارشي. داسې کتنه چې دا انځورونه بیا ستاسې لپاره د ژوندانه آیینه شي او هروخت په کې خپل ځان، خپل ژوند، خپلې شیبې، خپله شپه او ورځ، خپل انځورونه ګورئ چې څومره ددې سره سمون لري.

## د بلنې او دعوت انځور

انځور څه ډول رامنځ ته کیږي؟ ګڼ شمیر واړه واړه ټکي او نقطې سره راټولې شي او یو ځانګړی ترتیب ونیسي نو د انځور بڼه غوره کړي. که چیرې ګڼ شمیر انځورونه راټول کړل شي او په تیزۍ سره په خوځښت راوړل شي نود یو خوځنده انځور بڼه غوره کړي. ما چې کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوندانه ګڼ شمیر انځورونه راټول کړل او بیا مې هغه ترتیب ورکړ چې د هغه صلی الله علیه وسلم ملګرو ورکړی وو او له یوه سره مې ورته په ځیر ځیر وکتل نو په ټولو کې یو انځور ډیر روښانه او بارز راڅرګند شو او هغه داچې: هغه صلی الله علیه وسلم یو رسول وو، د الله له لوري رالیږل شوی وو، د هغه سره یو پیغام وو، د هغه سره یو دعوت او بلنه وه او انسانانو ته د دغه پیغام رسول د هغه ژوند وو. ما خو دا ومیندله چې له همغې شیبې څخه چې نبی کریم صلي الله علیه وسلم د حرا په غارکې د هدایت لومړی پیغام ترلاسه کاوه بیا تر هغه وخته چې خپل ځان او خپل روح یې خپل رب ته وسپاره او خپل رفیق الاعلی سره یوځای شو ټول ژوند یې یو تصویر او یوانځور دی او هغه د دعوت رسالت او بلنې انځور. هره شیبه یې همدا درد دی، همدا فکراو احساس دی، د همدې لپاره شپه او ورځ وقف دی او د همدې لپاره خواري او منډه ترې ده.

کله چې د اسوې خبره کیږی نو عموماً یواځې یو مفهوم زمونږ ذهنونو ته راځي چې : د هغه صلی الله علیه وسلم لباس څه ډول وو؟ د هغه د خوراك او څښاك طریقه څه ډول وه؟ څه ډول ګرځیده، کیناسته او پاڅیده؟ له دې زیات که څه فکر کوو، سره ددې چې ډیر کم فکر کوو، نو هغه به دا فکر وي چې اخلاق یې څه ډول وو؟

کوم تصویرونه او انځورونه چې د اسوې د لفظ په ویلو سره زمونږ ذهن ته نه راځی، اوکم له کمه په دې بڼه زمونږ ذهن ته نه راځی چې مونږ باید هغه ډول خپل ځانونه جوړ کړو، د مکې په کوڅو کې د منډو ترړو انځورونه، د صفا د غره څخه چیغه، د عکاظ په میلو کې ستړیاوې او ګرځیدل، د طایف په دره کې پښې ابله ګرځیدل او د بدر، احد، حدیبیه او نورو ډګرونو کې د موجودیت انځورونه دي.

دې کې شك نشته چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د خوراك څښاك، کیناستو پاڅیدو انځورونه هم زمونږ لپاره ستر ارزښت لري او د هغه صلی الله علیه وسلم د اسوې اهمه برخه ده خو قرآن خو داسې فرمایلي دي: لقد کان لکم فی رسول الله اسوة حسنة (الاحزاب **۳۳**)

یقیناً د الله په رسول کې تاسې لپاره ښکلې نمونه ده.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم لفظ ته که ځیرشو نو ټوله خبره ذهن ته راځي.بیا به ستاسې ذهن ته دا خبره راشي چې بل هر انځور ډیره ارزښتناکه اسوه ده خو په ټول ژوند کې یې یو انځور ډیر واضحه او روښانه دی، هغه انځور د رسالت د اسوې انځور دی، هغه د دعوت د اسوې انځور دی، هغه د انذار او تبشیر انځور دی، هغه د ایتونو د تلاوت، د کتاب او حکمت د ښونې او روزنې او د نفسونو د تزکیې انځور دی. د هغه صلی الله علیه وسلم د ژوند هره شیبه د همدغه انځورونو عکاسي کوي. دا ضرور ده چې زمونږ لباس باید د هغه په څیر وي، زمونږ خوراك د هغه صلی الله علیه وسلم په څیروي، د ویده کیدو او ویښیدو په طریقه کې د هغه صلی الله علیه وسلم د کړو وړو پیروي وکړو. زمونږ اخلاق هم باید د هغه د





اخلاقو په رنګ کې رنګ شي. خو که چیرې مونږ د هغه صلی الله علیه وسلم د دعوت انځور خپل نه کړو، نو مونږ په سمه معنا دهغه صلی الله علیه وسلم سره مینه نه ده کړې.

اوس به تاسې ته معلومه شوې وي چې ما ولې تاسې ته دا انځورونه غوره کړي دي. نو راځئ چې اوس درته خپل البوم خلاص کړم.

# دناکراره زړه شوق او ذوق وګوره!

**لومړی انځور:**

## ژړه غوښې سترګې

دا لومړی تصویر عبدالله ابن مسعود مورږ ته خوندي کړی هغه وایي یو ه ورځ داسې مهال دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم خدمت ته حاضر شوم چې هغه مبارك په منبر ناست وو او ماته یې وویل، اې عبدالله! ماته قرآن پاك ولوله چې وایې ورم.

ما په ډیر هېښتیا او ادب سره وپوښتل :

زه یې درته ولولم پداسې حال کې چې پر تا نازل شوی دی.؟

هغه راته وفرمایل : هو زه غواړم چې له ما بل چا څخه یې واورم .

عبدالله وایي : ماورته دنساء سورت لوستل پیل کړل :( فکیف اذا جئنا من کل امة بشهید وجئنا بک علی هئولاء شهیدا) . هغه به څه ډول حالت وي چې په هر امت ګواه تیر شي او ته په دې ټولو انسانانو ګواهي ورکړې.

غږ یې راته وکړ چې اې عبدالله بس کړه.. ما ورته وکتل ګورم چې دنبي علیه السلام له دواړو سترګو اوښکې بهیدې.(بخاري ,مسلم)

دې انځور ته ښه په ځیر سره وګورئ چې دا دکومې ذمه واري او مسولیت دومره ژوراحساس دی چې زړه یې وچیړه او سترګې یې لمدې کړې. ځکه له درده پرته له سترګو څخه اوښکې نه راځي.

دا ذمه واري دالله دبندګانو پر وړاندې په حقه او ریښتونې ګواهیورکول دي، دا د دعوت مسئولیت دی او دا شدت د هغه احساس دی چې یوه ورځ به الله پاك ما د ټولو انسانانو پر وړاندې وپوښتي چې تا دګواهۍ ورکولو مسئولیت تر کومه حده تر سره کړی دی نو زه به څه ځواب ورکوم.

دې مینې ته ګوره چې له خپل رب سره یې لري او دې ډار ته ګوره چې هغه پر وړاندې دګواهۍ له پاره له دربدو څخه یې لري داځنګه دزړونو د





کابو کولو د مینې او ډار امتزاج دی ! دخدای دمخلوق په اړه مهربانۍ او شفقت ته ګوره چې په زړه کې جوش وهي او پر رباني کلام دې باور ته ګوره چې دهغې په اوریدو سره له سترګودډار او مینې داوښکو چینې روانیږي – په داسې انځور به بې اختیاره مینه څنګه نه راځي.

اوس نو ددې انځور په هینداره کې خپل ځان ته وګورئ او سوچ وکړئ چې دیو مسلمان په توګه دخپل قوم او ټولو انسانانو پر وړاندې بالاخره مورږد ګواهۍ امت یوو او دا زمورږ د ژوند یوازینۍمرام او موخه ده ددې موخې له پاره راټول شوي یو. شپه او ورځ مو په ژبه د شریعت پلي کول، اسلامي نظام، دین پیاده کول، دالهي حاکمیت او د حق دګواهۍ توري څرخي، خو ربنتیا ووایاست چې تراوسه څو ځله دشپې په تیارو یا دورځې په رڼاکې ستاسو له سترګو اوښکې بهیدلې دي اوپه دې مو فکرکړی چې پر خواو شا انسانانو باندې د ګواه په توګه الله پاك مورږ دګواهۍ له پاره وغواړي نو هغه مهال به زمونږ څه حال وي ؟فکیف اذا جئنا من کل امة بشهید .

دا تاسو ته بهتره مالومه ده چې څه ډول چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم زمورږ پر وړاندې دحق ګواهي ورکړې نو همغه ډول مونږ د ټولو انسانانو په وړاندې د حق دګواهي ورکولو ذمه واریو.څه ډول چې هغه د الله په وړاندې ودریږي نو همغه ډول به مورږ هم دټولو انسانانو پر وړاندې دحق ویلو او ګواهۍ ورکولو ته ارو مرو حاضریږو. له تاسو به هم پوښتل کیږي چې دخپلې کورنۍ غړي, همسایه ګان، د خپل دفتر کارکوونکي او خواو شا اوسیدونکي چې په ګمراهۍ کې بوخت دي آیا تاسو ورته دحق بلنه او ګواهي ورکړې ده ؟ ته ریښتونی ګواه وې که درواغجن؟ ته هوښیار وې اوکه دخپلې ګواهۍ دمسئولیت نه غافل او بې پروا وې؟ تاسره د ټولې نړۍ دانسانانو درد او غم وو کنه یوازې دخپل مال اوځان فکر ؟

آیا په دې ټولو خبرو فکرکول ستاسو له سترګونه اوښکې بهولی شي ؟ که ځواب (نه) وي نو بیا ددې مانا داده چې دنبي علیه السلام دا حقیقي تصویر ستا زړه ته نه دی ننوتی او ستا په زړه کې هغه درد او جذبه نه ده

پيدا شوې چې له هغې پرته ستا ژوند له ښکلا او ښيګڼې نه محروم او بې برخې دی.

کـه تاسـو تقريرونـه وکـړئ، کتابونـه ولـولئ، چـيغې ووهـئ , جلـسې اوغوندې وکړئ خو چې دغه درد او عـشق مـو زړه تـه نـه وي کيـوتی تـرهغې مو هيڅ نه دي کړي.

ددې تـصوير تـر لېـدو وروسـته کـول دا پکـار دي چـې ورپيـږو، وډار شـو وژاړو او په دې فکر وکړو چې دهر ګمراه او بې لارې انسان چې له خپـل رب نـه غافـل وي، پـه اړه بـه الله پـاك لـه مـوږ نـه پوښتنـه کـوي. ددې بـې لارې پوښتنـه لـه مـوږ نـه کيـدونکې ده او ددې خلکـو دګمراهـۍ مـسئوليت بـه ستاسې په غاړه وي.





# دويم انځور

**سوزوونکي اوسيلی**

اوس دويم انځور ګورو دا انځور کوم انسان نه دی جوړ کړی بلکې دا تـصوير هغـه چـا اخيـستی چې نـوم يـې المصور( انځـور ګـر) دی چې ټـول کاينات يې پر انځور ګرۍ ګواه دي.

فلعلك باخع نفسك الايکونوا مومنين ( سوره شعرا ۲۶:۳ )

ته به په دې درد او غم کې ځان تباه کړې، چې ولې دا خلك ايمان نه راوړي.

**دا رنګ هم ووينئ**: په خپله ريښتينولۍ باندې باوري دی او داسې باور لکه په رښا ورځ چې سړی دلمر په ليدو لري.هغه څه چې موږ ته غيب ګڼل کيږي نبي عليه السلام ته دسترګو ليدلی حال وي خو ددې يقين پر وړاندې انکار موجود دی ,څوځله انکار,ددروغوتهمت تړل دي او مسلسل تهمت, لکه دلمر په شتون چې په رښا ورځ څوك انکار وکړي اصلا دا انکار نه بلکې ملنډه ده چې په لمر سترګې پټوي. دا ظلم دی , تيری دی او سر بيره پر دې مخالفت دی نو تاسې سوچ وکړئ چې ددې پر زړه به څه تيريږي او المصور ددې څومره ښه انځوراخيستی (باخع نفسك )دا ددې کيفيت څه ښه تمثيل دی.

او له دې زيات زړه راښکونکي انځوردادی چې په انکار او تکذيب دزړه ريبل اودځان تباهي خو فطري خبره ده هر څوك دداسې حالت سره مخ کيږي.هغه خبره چې دتصور سترګې يې دتصويرولوتوان نلري او (المصور) يې انځور زمونږ سترګو ته ايښی دی لدې نه ډيره لوړه اوهسکه ده خو نوروډټول انکاراوتهمت سره سره يې په زړه کې قهر او غصه نشته دتباهۍ او بربادۍ پرځای يې خيرخواهي غواړي ، ښيرې ورته نه کوي. بس يواوردی, يوه جذبه ده , يودرد دی، يو غم دی، چې څنګه به دا خلك ايمان راوړي او له عذاب څخه به وژغورل شي , جنت ته ننوزي اوپدې نړۍ کې هم وربانديې دعدل او انصاف پيرزوينه وشي.

دشوق ,فکر اوغم درنګونو يو ډير په زړه پوري امتزاج دی چې د لعلك باخع نفسك ...انځوردځرکونو څرګندونه کوي پدې کې هغه په ځان زور راولي,ساه يې پکې دربږي او ځان پکې له لاسه ورکوي.

سوز وغم او درد اوسوچ يوازې ددې له پاره نه دی چې خلك ولې زما خبره نه مني, او ځان ددې له پاره وژل نه دي چې ولې هغوی دربښتوني هدايت نه انکار کوي پدې نه رنځيږي چې ولې خلك پر ما باور نه کوي او ايمان نه راوړي بلکې درد ددې خبرې دی چې خلك ولې د پتنګ په څير داور لمبوته په منډو دي اوورغورځيږي او په تيره داچې په دغې سوزيدوباندې خوښ او مطمئن دي.

عجيبه ده چې اور کې سوزيدو ته هم چمتو دي. (سوره بقره ۲:۱۷۵)

يوخوا درب او دهغه د مخلوق سره مينه ده، دخپل فطرت له مخې سر تر پښو رحمت دی چې رحمة للعلمين يې ورته ويلي، بل لورته له چا سره چې مينه لري هغه له خپل عاشق نه لرې تښتي او دتباهۍ پر لور روان دي. لږ خو دداسې زړه د کيفيت اندازه هم ولګوئ. پخپله نبي عليه السلام ددې کيفيت انځور داسې وړاندې کړی دی:

زما مثال داسې دی لکه يو سړی چې اور بل کړي او پتنګان يې رښا ته راټول شي او په اور کې غورځيږي خو يو کس داسې هم وي چې هغه يې ژغوري خو پتنګان دهغه پر هڅو غالب شي اوهمداسې په اور کې غورځيږي ، زه په همدې ډول تاسو له ملا رانيسم چې اور ته ځان مه اچوئ خو تاسو اور ته ځان ور غورځوئ. ( بخاري، مسلم).

اوس ددې انځور په رښاکې تاسې لږ خپل ځان ته سوچ وکړئ ! چې آيا پر خپل پيغام مو همدومره باور شته چې که خلك ترې انکار وکړي نو تاسوورته ځان په کړاو کې ووينئ؟آيا دخدای د بنده ګانو مينه همدومره زوروره ده چې ستاسو په زړه کې دمايوسۍ,غچ , غصې اونفرت پر ځای دهغودښيګنې او هدايت فکر او شوق غالب شي؟آيا په ګمراهي کې دخلکو په ليدو سره مو همدومره زړه دردږي لکه يو خواخوږی مو چې په





اور کې سوزي ؟پدې خلکو کې خو ستاسې موراوپلار,وروڼه اوخويندې ,ښځه اوماشومان خپل اوخپلوان ,دوستان اوملګري, ټولګيوال اوددفتر ملګري دي د دنياله تشويشونو,سوچونواومالي فکرونو سره موچې مينه ده نودهغوی په دنيوي ستونزو او مالي تاوان خفه او فکرمند کيږو, دا زمونږ ټولو تجربه ده نو آيا ددعوت فکر, بندګانو ته دالله پيغام رسولو درد,لازورکي انسانان ددوزخ نه ژغورلو او جنت ته رسولو جذبې دغه ډول اولدې څخه زيات ستاسو زړه ناکراره کړی دی ؟آيا دالله د نافرمانه خلکوپه ليدو سره مو محسوس کړې ده چې دا سرغړونکي به په اور کې سوزي او پر دوی د ګمراهۍ د فتوالګولو پر ځای څنګه دوی له لاسه راونيسو اوله خطرناك پای نه يې وساتو.؟باور وکړئ تر څو چې د(لعلك باخع نفسك) انځور او رنګ زمونږ زړونو ته نه وي ننوتی تر هغې پورې مونږ دهغه کار چې نبي عليه السلام سرته رساوه دکولو څه چې د نوم اخيستلو وړ هم نه يو.

# دریم انځور

**د خپل رسالت فرض یې سرته ورسول:**

اوس دا انځور وګورئ, هغه چې ښکلی او زړه وړونکې منظر انځوروي پایله یې داده چې د حسن او جمال هغه انځورونه چې مخکې وښوول شول که دا دوه انځورونه نه وای نو دادریم انځورهم نه شو ترلاسه کیدای. دعرفات پراخه میدان دی... د عربو د کونج کونج نه لوی واړه ځوانان او زاړه او نر او ښځې په لکونو خلك راټول شوي وو او د رشد اوهدایت دامام حضرت ابراهیم خلیل الله له خوا دورکړې بلنې پر بنسټ راټول شوي وو چې ددې بلونکو د سلسلې وروستني استازي حضرت محمدصلی الله علیه وسلم دغه بلنه ژوندی کړه,دعربي نړۍ ګوټ ګوټ ته یې ورسوله اوترقیامته یې انسانانو ته دهغې درسولو اهتمام وکړ.

نبي علیه السلام پر اوښه سپور دی... او خپل امت ته وروستۍ لارښوونې کوي,دوینا پای ته رسیږي نوپه زرګونو راټولو شویو خلکو ته وایي : سبا په قیامت کې الله پاك ستاسو نه زما ددعوت په حق کې پوښتنه کوي همدا اوس راته ووایاست چې تاسو به څه ځواب لرئ؟

نو ټولو خلکو په یوه غږ ورته وویل چې مونږ ګواهي ورکوو چې تاسې دخپل رسالت حق اداکړ,تاسې دنصیحت کار سرته ورساوه اوالهي امانت مو په سمه توګه مونږ ته راورساوه.حضرت محمد صلی الله علیه وسلم خپله دکلیمې ګوته اوچته کړه کله به یې اسمان ته او کله به یې دخلکو لور ته نیوله او ویل یې: اې الله ته ګواه اوسه, اې الله ته ګواه اوسه, اې الله ته ګواه اوسه.(ابو داود ,مسلم)

څوك دی چې دغه ډول انسانان او الله (ج)د خپل رسالت په سرته رسولو ګواه نیولای شي ؟دغه کوم انځور دی, دا ستاسو پر وړاندې یوه پوښتنه ده ځکه تاسو د نبي علیه السلام دمبارك دعوت توغ په لاس کې نیولی او هغه مو دخپل ژوند موخه او تګلاره ګرځولې ده او ددې له پاره شپه ورځ تیروی.

تاسو به دا شکایت کوئ چې دومره وخت تیر شه خلك زمونږ خبره نه اوري خو له تاسو یوه پوښتنه کوم هغه داچې آیا تاسې کله هم داسې کړي





چې ټول انسانیت نه، ستاسې شاوخوا ته میشت نامسلمانه وګړي هم نه، خپل ملك هم نه , خپل ښارهم نه بلکې یوازې خپل خواوشا خپلوان او همسایه ګان مو راټول کړي ترڅو ترې ګواهي واخلئ چې آیا ما درته دالله پیغام ورساوه؟مادامانت اونصیحت حق ادا کړ؟ آیا تاسې به دخدای (ج) په وړاندې دا ګواهي ورکړئ؟ اوهغوی په یوه غږ ووایي چې , هو! .

دا درسولو دنده یانې ابلاغ , دبلنې دنده یانې دعوت, دګواهي مسئولیت یانې شهادت, دخپل کور دغږیو، دخپل کلي داوسیدونکو او بلاخره دټول ملك او نړۍ دانسانانو په حوالې ستاسې په غاړه ده او که ږښتیا ووایودهرانسان په اړه چې تاسې ته راځي اویا تاسې ورسیدلای شئ اوهغه له هدایت نه محروم اوشفا ته اړ دی دا پوښتنه له تاسې کولای شي چې زه په تیاره کې ووم اوتاسره رڼا وه او مونږ لازورکي وو, تاته سمه لار مالومه وه خو تاراته ونه ښوده,نو نن که زه دالله په وړاندې له هلاکت سره مخ یم ته دخپلې دندې او مسئولیت له مخې خلاصیدلای شې ؟ نو بیا به ته څه وایې؟

ددې درې انځورونو نه چې ددعوت د اخلاقو کوم نقشونه څرګندیږي او په ژوند کې یې راوستل پکار دي، هغه روښانه دي.

- ددعوت او ددعوت د مرتبې دمسولیت پیاوړی احساس

- په ژوند کې تر ټولو ډیر دا سوچ کول پکاردي، چې دې خلکوته دالله داحکامو د رسولو مسئولیت لرم.

- تل له ځان سره حساب کول پکار دي، چې هغه کسان چې ستاسې اړیکې ورسره دي ایا دې ګواهۍ ته چمتو دي چې تاسو د هغوی خیر خواهي غوښتې ده؟ او یامو له منکراتو منعه کړي دي ا و داحق مو ور ادا کړی دی.

## هغه په انبیا وو کې د رحمت دلقب ګټونکې وه

زما ددې البوم څو برخې دي چې دهرې برخې انځورونه د یو دلیل له مخې یو په بل پسې اینبودل شوي دي، زه غواړم دا څلورم انځور تاسو ته دبلې زاویې څخه در وښایم.

دا انځور زما ډیر خوښ دی او په وار وار ورته ګورم خو نه پوهیږم دا انځور کله دوستانو ته هم وښایم که چیرته لومړني انځورونه د ښکلا دیوې

اداپې وو چې ددعوت له پلوه ځليدلي وو نو دا انځور دغه ښکلا نوره هم ځلوي چې ددعوت دمخاطبينو په حواله يې وړاندې کوم.

# څلورم انځور:

**دټپ په بدل کې يې ګلونه اورول**

داد دعوت لسم کال دی او دلسو کالو تر زيار اومحنت وروسته هم دمکې مشران او اوسيدونکي دې ته چمتو نه شول چې الله پاك واحد لاشريك وګڼي.دالله درسول خبره ومني او مکه دالهي دعوت په مرکز بدله کړي، پر عکس يې دا سوچ مل شو چې دخدای رسول ختم کړي،ځکه تر يو مهاله خودیو مهربانه تره ابوطالب ډاډ ووچې هغه هم رخصت شو، پنځه ويشت کلنه ملګرې خديجه کبرا هم وفات شوه، اوس نوددعوت سرلاری چاته مخ واړوي !

مکې خپلې بهترينې ملغلرې د هغه په غيږ کې واچولې خو اوس ددې اړتيا وه چې چيرته د يو خدای دبندګي پر بنسټ يوه ټولنه جوړه کړي چې هغه په ټوله نړۍ ديو خدای دبندګۍ او مننې دواکمنۍ مرکز وي.

ددې تصور د عمل له پاره نبي کريم صلی الله عليه وسلم طايف ته مخه کړه ځکه طايف مکې ته هغه مهال تر ټولو لنډ ښار او ښيرازه او باغ لرونکې سيمه وه ګويا چې هلته به ددې دعوت ومنل شي او دهغه ځای سرداران به ورسره مله شي.

لاره ستغ لرونکوغرونو او ژورو کندو نه ډکه وه موسم هم د ګرمۍ وو هغه هم دعربو ګرمي چې د استوا تر کربنې لاندې واقع ده . عمراو سن هم پنځوسو ته رسيدلی، ځواني هم نه ده چې سفر ورته ستونزمن نه وي، د سپرلۍ بندوبست هم شونی نه وو ځکه چې ټول مال ددعوت په کار کې لګول شوی وو، نو بايد چې پياده روان شي ,دلاړې ملګری يې حضرت زيدبن حارثه وو چې زوی يې ورته ويلي او دحق دلاړې ملګری يې وو.





طايف ته ورسيدل نبي کريم صلی الله عليه وسلم د طايف دښو ثقيف قبيلې دريې سردارانو کره تشريف يوړو عبد ياليل، مسعود او حبيب کره او هغوی يې دالله بندګۍ ته راوبلل دمکې دلس کلن کشمکش پر مهال طايف ته دنبي عليه السلام اميدونه او هيلې يو بل پسې ورژيدې، دواك, دولت, مرتبې او نوم په غرور کې ډوبو سردارانو د دعوت دکاروان سره ټکر وکړ او دهغوی ځواب لږ داوريدو وړ دی.

د زخمي زړه له پاره لومړی غشی داوو :

الله پاك ته ستانه پرته نور څوك پيدا نه شول چې ته يې رسول کولې او دسورلۍ له پاره ديو خره وس هم نه لري ؟

دويم خپله سياسي نظريه وړاندې کړه :

دکعبې پرده به تار تار شوې وه که ته پيغمبر وای.

دريم منافق ته يې هم زور ورکړ :

زه تاسره بيخي خبرې نه کوم ځکه که ته دالله رسول يې نو زه ددې وړ نه يم چې دالله له رسولانو سره خبرې وکړم او که درواغ وايې نو زه دومره ذليل نه يم چې له درواغجنو سره خبرې وکړم.

نبي عليه السلام په زړه زخمي دطايف له سردارانو مايوسه شو او له طايف نه دوتلو تکل يې وکړ خو د سردارانو له خوا لوچکو او لوفرو خلکو ته وويل شول چې ورپسې شي او په کانړو يې وولي او په ډيره بې رحمۍ يې په نبي عليه السلام د کانړو باران وکړ ا و تر نوکونو يې په وينو کې ليت پيت کړ او چې د زخمونو او درد له لاسه به کيناست نو بيا به يې ودراوه او دکانړو باران به پرې پيل شو چې دکانړو په باران کې تر اوږدې لاړې وهلو وروسته يو باغ ته ورننوت.

اوس دا منظر وګورئ چې کوم زړه به ورته ټينګ شي.

په وينو سور بدن دلاړې ملګري حضرت زيد داوبو خواته راوړو او پښې يې ترې ويستلې نو وينو له تلو سره نښلولې وې چې ترې جلاکول يې اسانه نه وو ( مناظر احسن ګيلاني، النبي الخاتم، مخ ۸۵ )

دا څه ډول ورځ وه چې دهرچا له پاره او تر قیامته دټولو له پاره وه څومره درناك منظر دی چې ټولو واپس کړ.

یو ځل حضرت عایشې وپوښتل چې ای دالله رسوله ایا پر تا تر احد سخته ورځ هم راغلې ؟

نو هغه صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل :

ستا دقوم له خوا چې څومره ځور او کړاو راکول شوی نو تر هغې هم سخته ورځ په طایف کې هغه وه چې عبدیالیل ته مې بلنه ورکړه او هغه ونه منله.(نعیم صدیقي، محسن انسانیت، مخ ۱۹۶ دالمواهب الدنیا په حواله )

له هیلو سره طایف ته سفر، زخمي زخمي بدن، دژوند تر ټول سخته ورځ..... دا ټول سترګو ته ونیسئ بیا سوچ وکړئ چې په شوندو یې کوم الفاظ وو:

الله له خپلې بې وسۍ څخه تاته شکایت کوم.

دخلکو په وړاندې څومره وځورول شوم ا و څه راسره وشول اې په ټولو مهربانو کې لویه مهربانه! زما دایو سوال واوره.

د بې وسو او بې کسو مرستندویه! ته زما مالك یې زه دې چا ته سپارلی یم او حریفانو راسره داسې معامله وکړه خو بیا هم که ته رانه راضي نه شې نو ماته ددې خبرو څه پر وا نه راځي که هر څنګه کیږي ستا د عفوې په تمه یم.

زه ستاهغه نورته پناه وړم چې ددنیا اوآخرت چارې پرې سمیږي .

زه ستا لدې نه چې ته راباندې غوصه شې پناه غواړم اوستا له غضب نه تاته پناه دروړم.

ترهغه به تاخوشحالوم ترڅو رانه راضي شې.

زه کمزوری یم خوالله زورور دی.





دزړه دغه کیفیت مو ولید , دعوت ته تنده اودهغه په خاطرطایف ته له کړاوونو نه ډك سفر,په خپل رب باندې باور اودهغه درضاهڅه, دغه رنګ خو ډیر څرګند دی.

څه نور رنګونه هم شته چې باید تاسې یې ووینئ.

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دغه الفاظ چې ځوان ملګري حضرت زیدبن حارثه رضی الله عنه عرض وکړ :

اې دالله رسوله ! دغو ظالمانو ته ښیرا وکړه !

مهربان نبي صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

زه دوی ته څنګه ښیرا وکړم کیدای شي ,چې که دوی ایمان را نه وړي نو راتلونکي نسلونه به یې ایمان راوړي.

یو لیکوال پدې اړه لیکي : دا نبي مهربان صلی الله علیه وسلم درحمت او زړه سوي شان وو, دالله پر بندګانود بې پایانه شفقت اوصبر اواستقامت حیرانوونکی مثال وو, دمخلوق لپاره بې انتها جذبه , دحق پر پیغام پوره باور اودنیا ته ددغه پیغام درسولو نادره بیلګه چې په دغه وینا کې لیدلی شي په تاریخ کې یې ساری نشته, دانسانیت بل غوره شوي وجودمبارك قدمونه په مخلوق باندې دشفقت دغه لوړ مقام ته نشي رسیدلای.( ابوالکلام ازاد ,رسول رحمت,۱۵۲ مخ).

له باغ نه ووت دمکې لار یې ونیوه اوهغه ځای ته ورسید چې احرام پکې تړل کیږي, دلته جبراییل علیه السلام تشریف راوړو او عرض یې وکړ :

الله پاك هغه ټولې خبرې واوریدې چې تاته ستا قوم وکړې,اوستا ددعوت ځواب یې درکړ, نو دادی الله (ج) دغرونو ملایکه رالیږلې ده څه دې چې خوښه وي حکم ورته وکړه .

دغرونو ملایکې سلام وکړ اواجازه یې وغوښته:

اې محمد صلی الله علیه وسلم ته پوره اختیار لرې, که دې خوښه وي دطایف شاوخواغرونه به اوچت کړم اودغه خلك به ترې نه لاټدې کړم.

لږ سوچ وکړئ!

څوك چې ټپي ټپي دی,ګریوان یې شلیدلی دی, اوس یې څه په واك کې نشته؟ څوك چې په ډبرو ویشتل شوی نن توان لري چې په ډیره آسانۍ سره دغرونو په وسیله دهغو ځواب ورکړي...اوس وګورئ چاته چې دغرونو واك ورکړل شوی دغرونو ملایکه یې خدمت ته حاضره شوې هغه له خپل قوت نه څه ډول کار اخلي؟ که غوښتي یې وای نوهغوی چې دی یې ټپي کړی اوپه ډبرو یې ویشتلی دی به یې سنګسار کړي وای ؟(ګیلاني,النبی الخاتم, ۶۵_۶۷).

مګر هغه تاریخ چې د نوح علیه السلام په قوم توپان, په عاد قوم تندر, د ثمودپه قوم آواز,د لوط علیه السلام په قوم د ډبرو باران او د موسی علیه السلام د دریاب پیښې ثبت کړې دي هماغه تاریخ د محمد صلی الله علیه وسلم دغه ځواب هم ساتلی دی چې د غرونو فرشتې ته یې وویل: زه مایوس نه یم, د دغه قوم نه به الله پاك داسې خلك پیدا کړي چې د هغه عبادت وکړي او څوك ورسره شریك نه کړي.

د طایف دغه خوځنده انځور څومره په زړه پورې دی, د محبت روانه چینه ده ,د رحمت پریمانې ده, د خپل رب په بندګانو څومره زړه سوی او شفقت دی, د امید څومره غټ کمر دی چې د دعوت کښتۍ ورپورې ترلې ده.

له خپلو سره خو هرڅوك مینه کوي مګر څومره خلك دي چې له دښمنانو سره مینه وکړي؟ ښې خبرې ته خو هر سړی ښه ځواب وایي,مګر داسې خلك څومره دي چې د کنځلو او ډبرو ځواب په دعاګانو سره ورکړي؟د انتقام جذبه نشته, نفرت, غوسه, کنځلې او د طاقت غلط استعمال ...داهیڅ نشته, بلکې زړه خوږی, همدردي, شفقت, رحمت او د ژوند پیغام دی, که طاقت یې کارولی نو په ډېره کمه کچه, د ضرورت په اندازه اویوازې ددې لپاره چې د طاقت له استعمال پرته فتنه له منځه نه ځي, نه ددې لپاره چې فتنه نوره هم خوره شي, له هر څه نه زیات ددې خبرې فکر دی او ټوله هڅه او ناکراري د ددې لپاره ده چې زړه رب ته تابع شي اودهغه په وړاندې سر





کیږدي. داسې خلك پیدا شي چې د حق دعوت ته لبیك ووایي او که نن نه وي نو سبا ته یې ملګري شي.

دغه انځور په وار وار را یادیږي, په کشمکش او مخالفت کې,په بحث او شخړه کې ,په جګړو او لاټجو کې , مونږ زیاتره دغه انځور بیخي له یاده وباسو. مونږ دا هیره کړو چې زمونږ جګړه له مریض سره نه بلکې له مرض سره ده, مونږ له بدۍ نه کرکه لرو نه له بد انسان نه, بد انسان خو باید هغه وخت ختم کړل شي چې کله یې د شفا امید ختم شي.

دغه انځور وګورئ او بیا ځان ته وګورئ آیا په تاسې کې دومره محبت,نرمي,شفقت,زړه خوږی,حوصله,صبراوقوت شته چې خلك درته ښکنځلې وکړي او په ډبرو مو وولي او تاسې په دعاګانو ځواب ورکړئ؟

ستاسې په لاره کې اغزي واچوي خو تاسې ورته لاره کې ګلان فرش کړئ؟ هغوی مو ورتې او تاسې ورپورې هیلې وترئ؟ له تاسې سره اړیکې وشلوي او تاسې یې ورسره ټینګې کړئ؟دوی دربانديې ظلم وکړي او تاسې یې معاف کړئ؟

دا سمه ده چې بدۍ ته په نیکۍ سره ځواب ورکول اسانه کار ندی,خو دالله لور ته بلنې , نیك عمل او په اسلام باندې د کلك پاتې کیدو په موخه دغه څه ته ډیره اړتیا ده, دغه قیمتي پانګه نیکمرغه خلکو ته په لاس ورځي, هغوی چې د صبر په صفت نازول شوي دي. الله پاك فرمایي:

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلاً مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا وَقَالَ إِنَّنِى مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿٣٣﴾ وَلَا تَسْتَوِى ٱلْحَسَنَةُ وَلَا ٱلسَّيِّئَةُ ۚ ٱدْفَعْ بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ فَإِذَا ٱلَّذِى بَيْنَكَ وَبَيْنَهُۥ عَدَٰوَةٌ كَأَنَّهُۥ وَلِىٌّ حَمِيمٌ ﴿٣٤﴾ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٣٥﴾ سوره حم السجده ۳۳ تا ۳۵

ژباړه: له هغه چانه به د بل چا خبره ښه وي چې د الله لور ته بلنه کوي, نیك عمل کوي او ووایي چې زه مسلمان یم ,ای پیغمبره! نیکي او بدي برابره نده, د بدي ځواب په نیکۍ سره ورکړه او بیا وګوره چې هغه دښمن

ستا نزدې دوست وګرځي. دغه صفت دهغه چا په برخه کیږي چې صبر کوي او دغه مقام د سترې برخې څښتنانو ته ورکول کیږي.

سپینه درته وایم... ترڅو چې په تاسې کې دغه عزم او حوصله اودغه محبت او شفقت نه وي نوتر هغه د خلکو زړونه نه شئ ګټلی.

داعي د چا ذاتي حریف او دښمن نه وي , هغه که مقابله کوي نود خیرغوښتنې جذبه یې جګړې ته اړ باسي ,که وهل کوي,نو د زړه خوږې له مخې لکه یو ډاکټر چې د چا رنځور غړی پریکوي.

## دهغه هیلې کمې او موخې لوړې وي:

اوس به د خپل البم د درېمې برخې درې تصویرونه تاسو ته ښکاره کړم چې دوی ددعوت کار کوم حد ته ورسوه په دنیا کې هم او په آخرت کې هم.

# پنځم تصویر:

### ژوند دبندګۍ په شرط:

مکې نه مدینې ته رهي شو په لاره کې یو وړوکې کلی راځي , بدر ورته وایي چې چاپیره ترې ځنګلونه او د شګو ډیرې او غونډۍ دي.دهجرت دویم کال دی او په دې میدان کې هغه څه پیښیدونکي دي چې دانسانیت قافله دمرګ له لارې اړوي او دژوند په لاره یې اودوري. یو خوا د هغه مهال دجهالت مرکز دمکې لوی لوی سرداران او دهغوی ځواک موجود دی او په وړاندې یې هغه قوت او ځواک ولاړ دی چې دلاشریك رب ددعوت پر بندګۍ په پنځلسو کلونو کې راټول شوي و چې پکې هغه بشري شتمني هم شتون لري چې دانه دانه راټول شوي وو او هغه هم چې مدینې نه یې په یوه اواز لبیك ووایه.

د باطل په خواکې زر کسیز لښکر ولاړ وو چې نه ور سره د تورو کمی وو او نه هم داسونو او په مقابل کې یې دحق لارویان وو چې درې سوه او دیارلس کسان وو چې هغوی سره دوه اسونه او څو دګوتو په شمېر توري وې.





دبدر پریوه لوړه څوکه حضرت سعد بن معاذ (رض )یو څپر جوړ کړ چې پکې حضور پاك صلی الله علیه وسلم او دهغه د غار ثور یار ابوبکر (رض) د غزا په اړه فکر او تدبیر کاوه په دې شپه د حضور پاك صلی الله علیه وسلم په یارانو خوب هم غلبه وکړه چې ددې خوب او سکینې موخه داوه تر څو له زړونو څخه یې ډار لرې شي او ډاډ او باور تر لاسه کړي.

خو پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم ویښ وو او خپل خدای ته یې د مسلمانانو دبري په حق کې لاسونه اوچت کړي وو دهماغه رب پر وړاندې ولاړ وو چا چې دخپل امر او رسالت له پاره ګومارلی وو، کله هم لاس پر سینه مناجات کوي او کله هم سر په سجده دعا غواړي. دا هم نا ا شنا نندارە وه چې په دې ویړه او پراخه نړۍ کې د توحید برخلیك په څو ځانونو کې منحصر وو. پیغمبر له سخت حالت سره مخ وو دواړه لاسونه یې جوړه کړي او وایي اې الله له ماسره کړې ژمنې پوره کړه ! له ځان نه دناخبرۍ اوستونزمن حالت کې دمبارك له اوږې څخه څادر وغورځیږي خو هغه پرې خبر نه وي په سجده پروت وي اوفرمایي: اې الله که دغه څو کسان خاورې شول نو تر قیامته به ستاعبادت ونشي( شبلي نعماني,سیرت النبي , اول جلد ۳۲۱ مخ ).

دراز ونیاز دغه انداز خو مخې ته ونیسئ او بیا په تیره داچې ددې امت ژوند له څه شي سره مشروط شوی, یانې تر قیامته به ستا بندګي ونه شي. که دوی ژوندي پاتې شي نو دوی او ددوی وروستني به ستا بندګي وکړي او هره سا به ستا عبادت ته وقف شي.

په دې دعا کې قربت او مطالبه هم شته او مدعا هم شته او دوعدې پیاوړتیا هم ,داسې یې نه دي ویلي چې که دا امت نه وي نو حکومتونه به نه وي، کارخانې او مغازې به نه وي ټکنالوجي به نه وي او دولت او تولیدات به نه وي، داټول شیان به وي مګر ددوی اړیکه به دواحد لاشریك رب له بندګۍ نه پرې شي، لکه له هر شي نه چې ساه وتلې وي که داسې

وشي نو داټول شيان دکاميابۍ پر ځای دبربادۍ پر لور روانيږي.دا وعده هم پوره شوه او په بدر کې بريا مسلمانانو تر لاسه کړه.

" ترڅو که څوك هلاکيږي نو له روښانه دليل سره هلاك شي او که څوك ژوندي پاتې کيږي نو له روښانه دليل سره پاتې شي".سورت انفال ۴۲ آيت.

ددې انځور تر ليدو وروسته لږ له ځانه هم وپوښتئ چې آيا موږ دراز ونياز پر دغه لار تر کومه حده روان يو ؟څو دخپل خدای نه د زمکې دخلافت غوښتنه وکړو؟دبريالیتوب او کاميابۍ غوښتنه؟ او دسوبمن ژوند اوکاميابۍ زيری راباندې وشي.ددين دغلبې وعده، دوير نه دخلاصون وعده دهغه نيك عمله ډلې سره شوې ده چې ... **يعبدوننی لايشرکون بی شيئا**... سورت نور **۵۵** آيت ...ديو خدای عبادت کوي او شريك ورسره نه مني.





# دمنزل نښه

**څپرم انځور**:

## اوس دا بل تصوير اوګورئ

ددعوت لومړی وخت وو اوسه پورې څو کسانو ددعوت، اطاعت او جهاد وعده کړې وه او چاچې وعدې کړې وې پر هغوی د مصيبتونو غر راپرېوتی وو. څوك به يې په ګرمو شګو ځملول او تيږې به يې ورته په سينه کښودې،څوك به يې په زنځيرونو او رسيو ترړل او په کوڅو کې به يې رابنکودل په دوی کې يو هم حضرت خباب بن ارت وو دا يې تر هغې په انګار ځملولی وو چې له بدن نه يې غوړي ووتل او انګار يې مړ کړ. دا د حضور صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شوی وو. داانځور به نور دهغه په خبرو کې ووينو، رسول الله صلی الله عليه وسلم دکعبې دېوال ته ډډه لګولې وه او پر سر يې څادر راخور کړی وو ما ورته د خپلو حالاتو او مصيبتونو په اړه ګيله وکړه او ومې ويل ته زموږ له پاره دوعا نه غواړې ؟

زما ددې خبرې په اوريدو سره مبارك سيده کيناست او څيره يې سره شوه، وېې فرمايل تانه مخکې چې کوم خلك وو او ددعوت کار ورسپارل شوی وو نو هغوی سره به داسې عمل کيده چې په کنده کې به يې ژوندي ښخول يا به يې په سر باندې ورته اره کيښوده او دوه ټوټې به يې کړ. يا به يې ترې غوښې په انبور شکولې او په هر رنګ ونيرنګ به يې له دين نه اوړيدو ته اړ کول خو سره له دې هم هغوی له خپل دين نه وانه وښتل، په خدای قسم چې يو وخت به الله دا کار پوره کوي تر دې چې يو وخت به داسې راشي چې سړی به له صنعا نه تر حضرموت پورې سفر کوي او د الله نه پرته به نور له هيڅا څخه نه ډاريږي. پرته له دې چې څاروي يې څوك ونه داړي، نور به هيڅ غم نه وي خو تاسو خلك بيړې راخبستي ياستئ. (بخاري مسلم ).

په دې نړۍ کې دخپل دعوت پراوونه دسر په سترګو اوګورئ،يو د واحد الله بندګي،اوبل چې دهغې په پايله کې داسې ټولنه رامنځ ته شي چې هلته

يو انسان پر بل ظلم ونه کړي او ځواکمن دې کمزوری شي چې که پر چا يې ظلم وکړ يايې دپردي حق وخوړ او کمزوری دې زورور شي چې خپل حق واخلي، داسې ټولنه وي چې که هلته په يو لرې ځای کې يوه وزه له لوړې مري نو ددرد تصور يې د واکمن او حکمران په بدن لړزه راولي.

لږ سوچ وکړئ آيا ستاسو دعوت دهمداسې پراوونو ښکارندويي کوي.ځکه خودپيغمبرانو ددعوت لنډيز همداوو چې دواحد خدای بندګي ته يې وکړئ، هرپيغمبر خپل قوم ته همدا خبره کړې ده , اودټولوانبياو په اړه قران پاك فرمايي چې ما خپل رسولان دښکاره نښو او څرګندو دلايلو سره مبعوث کړي وواو کتاب او تله مې ورکړې وه ترڅوله خلکوسره انصاف وکړي (الحديد ۲۵-۵۷).

او دجهاد او سياست له لارې ,د عدالت او نياو ټينګول دالله اودهغه درسولانو سره دمرستې کار بلل شوی دی.

اوسپنه يې پيدا کړه چې په هغې کې زوراودخلکو ګټې دي ترڅوالله مالومه کړي چې څوك دهغه درسولانو مرسته کوي.(الحديد ۲۵-۵۷)





# اوم انځور

## زمونږ او ستاسو ددعوت کار

خلك دواحد خدای بندګي ومني کنه ؟په نياو او انصاف ولاړچاپيريال رامنځ ته شي که نه؟ زمونږ دا اصل او دا منزل بيخي پوخ دی. او دد ې حالت دلاسه دورکولو سوال هم نه پيدا کيږي دا زمونږ اصلي کاميابي او دجنت دتللو او دجهنم نه د ژغورنې لاره هم ده.

خوددې مقام وعده له هغه چا سره شوې ده چې درب بندګي اوانصاف لوري ته دخلکو درابللو په هڅو کې له هرڅه نه تير شي ان سر هم ترې ځار کړي خو دجنت نه تير نشي, ځکه اصلي موخه او پراو همدغه دی.

زه ستاسو د هيڅ يو که نارينه دی يا ښځينه، عمل نه ضايع کوم که څوك زما له پاره هيواد پريږدي يا له کوره ايستل شوی وي يا ځوروول شوی وي, زما لپارهجګړه وکړي اووژل شي نو زه به يې اجر ورکړم او ګناه به ورته وښښم او دوی به هغو باغونو ته ورننباسم چې ويالې ترې لاندې بهيږي (آل عمران ۳-۱۹۵)

دليدو پرته جنت يوحقيقت جوړيدل, او ددې په بدل کې د ژوند سودا کول ، ددې دلاسته راوړلو له پاره دهرشي بايلل ,ددې دخوښيو د احساس له مخې ور منډه کول او ميوو ته يې لاسونه ور وړاندې کول ... پدې اړه زما سره په البم کې دومره انځورونه دي چې اوس يې تاسو ته ښودل ممکن نه دي بيا به بل وخت ددې البم سيل درباندې وکړم.

### په بيړه ددې څو منظرو نندارە وکړئ :

دانس بن نضر دی، درسول الله دشهادت اوازه يې واورېده نو داحد له غرونو ورته دجنت بوی راغلو او دټپونو ډك بدن بيرته دجنګ ډګرته ستون شو او دجنت پر لور يې ګام واخيست.

او دا هم عمیر ابن حمام دی چې دجنت بلنه یې واوریده نو دومره انتظار یې ونه ویست چې په لاس کې ور سره شته کجوره یې خوړلې وای،کجوره یې وغورځوله او په منډه دجنت پر لور روان شو.

اودا هم حرام بن ملحان دی دجنګ په میدان کې دښمنانو دشا له خواپه نیزه وهلی دی چې له بې تابۍ نه په زمکه راولوېد او دساه وتلو نه وړاندې یې دخوښۍ موسکا پر شونډو خوره وه او بریالیتوب یې دسترګو پر وړاندې نڅا کوله او په ژبه یې دا الفاظ وو... **فزت برب الکعبه ..**.(دکعبې په رب مې دې قسم وي چې ز ه کامیاب شوم) .

دا ابو دحداح دی چې جنت ورته دومره نږدې او قیمتي وو چې خپل باغ یې یو یتیم ته وسپاره او سرشاره خوشاله وو.





# مینه دنړۍ فاتحه

**اتم انځور**

## روف رحیم

دحضورپاك صلی الله علیه وسلم داانځور یوداسې انځور دی چې المصور مورِ ته را ښوولی دی.

اې پیغمبره دا د الله ستر رحم دی چې ته یې ډیر نرم زړی پیدا کړې که ته غوصه ناك وای نو چارچاپېره ټول په تا راټول خلك به درنه تللي وای ددوی قصور وښښه ددوی له پاره د ښښې سوال وکړه او ددین په کار کې ورسره مشوره وکړه (آل عمران ( **۱۵۹**) .

وګورئ چې تاسو ته داسې رسول راغلی چې ستاسو څخه یو کس دی او ستاسو په زیان او درد دردیږي او په نیکو مو خوښیږي او دایمان راوړونکو له پاره روف او رحیم دی.(توبه ۱۲۸)

ګورئ چې یوازې ددعوت ریښتینولي دجماعت دپیوندولو او ټینګولو لار نه ده ددا‌عي مزاج او نرم طبیعت هم اغیز لري،که څه هم چې داد الله له لوري لورېینه وي خو که نه وای نو خلك به نه راټولیدل او لرې کېدل به.

تاسو ددې شفقت او نرمۍ څه ډول تصور کوئ چې پخپله الله پاك مورِ ته په دوه الفاظو کې څرګنده کړه چې په خپله دهغه دخپلو صفاتو انځورګري کوي. یانې رووف او رحیم ـــددې نرمۍ او عاطفې پایله وه چې په سلو کلونو کې دومره ځواك پرې راټول شو چې له اتلانتیك نه نیولې تر چینه او دچین نه نیولې تراروپا پورې ددین بلونکي ورسیدل اودین یې خلکو ته ورساوه.

# نهم انځور

**دخطاکارو بښل** :

پیغمبرصلی الله علیه وسلم دمکې د نیولو تیاری کاوه ځکه چې قریشو د حدیبیې دسولې له تړون نه سرغړونه کړې وه او هغه تړون یې مات کړی وو، قریش په دې کې حیران وو چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم اوس هم په دې تړون ولاړ دی کنه ؟ خو دا بهترینه موقع وه چې په پټه سره مکه هغه رب ته چې کوریې په مکه کې دی وسپاري کنه نو وینه به وبهیږي.

حضرت حاطب یو بدري صحابي دی هغه سوچ وکړ چې د مکې والو ټولې دوستۍ دمدینې له خلکو سره دي چې دوی ساتي نو زه یو بې اثره سړی یم ښه به داوي چې هغوی ته خبر ورکړم چې ځانونه وساتي ځکه دنبي علیه السلام بریالیتوب خو باوري دی، نو هغه یوې ښځې ته لیک ورکړ او ویې لیږله. حاطب دا سوچ نه وو کړ ی چې رحمة للعلمین به دمکې خلکو ته ښښنه کوي او بل لور ته په دې یې هم سوچ نه وو کړی چې ددې لیک نه به نبي علیه السلام ته الله پاك خبر ورکوي، نبي علیه السلام ته وحي وشوه او له خط نه خبر شو نو یو استازی یې په منډه وروانستاوه ترڅو هغه ښځه ونیسي او لیك تري واخلي، همداسې وشول لیك تر لاسه شو او حاطب نبوي دربار ته وروغوښتل شو هغه په خپل جرم اعتراف وکړ نو خبرې پېښ شوې چې څه ډول سزاورکړي ځکه دا کار په هر قانون کې جرم وو،حضرت عمر رضی الله عنه وفرمایل چې سر یې ور پرې کړئ او نورو هم ورته نظرونه وړاندې کړل خو رووف او رحیم رحمة للعلمین دحاطب جرم او پړه هم وروښښله.

دا انځور وایي چې د جماعت ښیرازي په دې کې نه ده چې سختي وشي بلکې سختي او شدت داصلاح له پاره، دورانیو دمخنیوي له پاره، دفتنې د مخنیوي له پاره ضروري ده خو دجماعت دپیاوړتیا له پاره تر ټولو ښه





ځواك، ښښنه او عفوه ده ا و دادرحمت او محبت پالیسي د رحمة للعلمین له خوا پېښ شوه چې په دې محبت سره یې نړۍ فتح کړه.

تاسو دا انځور مخې ته کیږدئ او بیا ددې په رڼاکې ځانونو ته وګورئ چې ستاسو مشران څومره په دې تول پوره ختلي دي.

ماسره د محبت او نرمۍ ښه ډېر مثالونه دي چې په دې لنډ تنګ وخت کې یې تاسو ته نشم ښوولی خو دا دوه نور هم اوګورئ چې د تربیت او تعلیم اواحکاموپه پلي کولو کې څومره نرمي اوشفقت انځوروي.

# لسم انځور

## زړه سواند معلم:

په نبوي مسجد کې نوراني مخ ناست وو، يو اعرابي يو کليوال سړی راغی ,فرش د سختو کانړو او پرخې نه جوړ وو، نو اعرابي په ولاړه په مسجد نبوي کې متيازې وکړې،کله چې خلکو ولید نو په منډه ور روان شول او زړه يې وو چې ويې وهي خو دنبي عليه السلام ورپام شو او په نرمۍ سره يې خلکو ته وويل چې مه کوئ خلك يې منعه کړل او سړی يې راوغوښت ورته ويې ويل چې ورووره دا جومات دی او مقدس ځای دی دلته متيازې کول ښه کار نه دی او خپلو ملګرو ته يې وويل چې په دغه ځای اوبه واچوئ او ورته يې وويل تاسو د نرمۍ له پاره پيدا شوي ياست نه د سختۍ له پاره، يو تن لاړ او لوټه يې له اوبونه راوړکه کړه اوپه هغه ځای يې واړوله (بخاري - مسلم)

ځان ته وګورئ اوسوچ وکړئ چې تاسو دخلکو غلطۍ په څه ډول اصلاح کوئ دنرمۍ له لارې او که دسختۍ له لارې ؟

# يووسلم تصوير:

### ستا په څير چاره ساز او زړه ساتونکې نشته

يو ورځ دنبي عليه السلام خدمت ته يو سړی حاضر شو او ويې ويل تباه شوم , هغه ورته وفرمايل ولې ؟

سړي ورته وويل : په روژه کې مې له خپلې مېرمنې سره جماع وکړه.

هغه صلی الله عليه وسلم ورته وويل چې، يو غلا م ازاد کړه.

سړي وويل: بيوسه يم غلام له کومه کړم.

هغه صلی الله عليه وسلم ځواب ورکړ :دوه مياشتې روژه ونيسه.

هغه وويل دا کار هم نشم کولی.

مبارك ورته وفرمايل : شپېتو مسکينانو ته ډوډۍ ورکړه

سړي وويل چې دومره وس نه لرم.





په دې کې چا يوه ټوکری کجورې راوړلې او نبي عليه السلام ته يې ورکړې نبي عليه السلام دا کجورې هغه سړي ته ورکړې او ورته يې وويل چې دا په بيوسو وويشه. هغه وويل اې دخدای رسوله! قسم چې زما نه بل بيوسه نشته.. نبي عليه السلام په خندا شو او ورته يې وويل چې بس پخپله يې وخوره.

## دژوندانه پېلګه:

اوس تاسو ته دخپل الېم يوه بله برخه پرانېزم په دې کې دژوندانه هغه اړخ روښانه شوی چې لايف ستايل ورته ويل کيږی

دا آخري انځور دی چې تاسې ته يې وړاندې کوم.

## دولسم انځور:

### زما طريقه اميري نه،فقيري ده

دا تصوير حضرت عمر رضی الله عنه اخېستی دی.

فرمايي چې يو ځل د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم حضور ته حاضر شو، هغه صلی الله عليه وسلم په خپل کور کې تشريف درلود نو حضرت عمر رضی الله عنه هلته وکتل چې د سردار کونين په کور کې کوم کوم شيان شته، يو شلېدلی کټ , په مبارك وجود يې يوائې يو څادر ترملا پورې، يو کټ،يوه تکيه،چې دخرمالې پوستکو ډکه وه، يوه پلو ته مبارکوپښوته يې دکوم څاروي پوستکې پروت وو يو څه مشك ډوله پوستکي پورته ځړيدل.

ددې شيانو په ليدلو سره دحضرت عمر رضی الله عنه په سترګوکې اوښکې راغلې،پيغمبر صلی الله عليه وسلم غلی کړ اوسبب يې ترې وپوښته ,حضرت عمر رضی الله عنه وفرمايل:

(يا رسول الله ولې به نه ژاړم دکټ درسيوپه سبب ستا په مبارك بدن باندې چاپونه را غلي دي،دا ستاسو مبارك دشيونو ټوکری ده،هغه څه چې په کې دي په نظر راځي،قيصر او کسرا خود باغونو

نه مزې اخلي اوتاسې چې دخدای پیغمبراومحبوب یاست دکور دسامان مو دا حال دی).

پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل:((اې ابن خطابه:... ته دا نه خوښوې چې هغوی دادنیا وګټي اومونږ آخرت ( شبلي نعماني,سیرت النبي ,دوهم جلد ۳۰۱ مخ ).

په دنیا کښې هر څه په لاس ورتله،خو هیڅ یې وانه اخیستل،او چې هرڅه ورته راغله هغه ټول ورکړه، د قیصر اوکسراپه څیریې شپه اوورځ تیرولی شول خو دفقیري ژوندیې غوره کړ )).

روایت نه ثابته شوه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ښه خواړه هم خوړلي،ښه لباس یې هم اغوستی دی،دلاس سره کړې غوښه یې خوښیده،چې موندله یې په شوق یې خوړله،خوشبویي یې ډیره استعمالوله.

حضرت عبدالله بن عباس فرمایي پیغمبر صلی الله علیه وسلم مې له ښه نه په ښه لباس کې لیدلی دی (ابوداود) حضرت عبدالله بن عمر په بازار کې یوه شامي اوږده کورتۍ راونیوله کورته چې راغی ویې لیده چې په هغې کې سرې لیکې دي بیرته لاړو اوبیرته یې ورکړه داکیسه حضرت اسماء ته چا بیان کړه هغې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم کورتۍ راوغوښته او خلکو ته یې اوښوده چې په جیبونو او لستونو اولمنه یې وریښمین پیوندونه وو.

خبره دانه ده چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ټولو پیروانو داسې ژوند کول فرض دي ظاهره ده هغه زینت چې الله خپلو بنده ګانو لپاره برابر کړای دی هغه پیغمبر صلی الله علیه وسلم څنګه حرامولای شو.





ددې تصویر اصل رنګ دادی چې دحق په لاره دتلو پریکړه،دآخرت دخوښولو پریکړه ده،وروسته له هغې هغه خلك چې دالله دبندګۍ له پاره ددنیا دټولو خلکو دراټولولو مقصد لري دهغوی زړه او ژوند باید ددنیا ټولولو له داسې فکر نه خالي وي چې مقصد یې دآخرت په زیان تمامیږي یعنې له هغه رنګه فکر چې ددنیا والو زړه پرې اباد وي،له هغه نه باید دده زړه خالي وي.

ددې لپاره تاکید شوی دی چې ګورئ نظر موتیرنه وزي داسې نه وي چې تیر وزئ او دهغو خلکو په تماشه شئ چې ټوله خوشحالي یې په دې دنیا پورې تړلې ده چې ښکلي کورونه لري چې په مرمرو یې ښایسته کړي دي،ښکلي باغونه لري, په کورونوکې یې ګراني غالۍ غوړولې دي، څوکۍ,اوسیټونه لري, آیر کنډیشن لري،په بانکونو کې روپۍ لري،دا یو هم تاته حرام نه دي .

خو دا یو هم ستا دمطلب نه دي،دا ستا منزل نه دی که له دې یو څیز هم

د حق ددعوت دلارې په زیان تمامیږي نو بیا دا جایزه نه ده.له دې نه صرف نظر کول په کاردي نظر هم مه ورپورته کوه،ددنیا دې شان وشوکت ته چې مادي خلکو ته مو ورکړی دی،مونږ دوی په ازمایښت کې غورځولي دي خو ستا درب رزق بهتر اونه تامیدونکې دی( طه ۱۳۰).

## په زړه کې یې ځای کړه

## په رنګ کې رنګ شته

دازما دالبم دولس مختلف تصویرونه دي.چې ماتاسې ته دروښودل. زما زړه غواړي چې تاسې داپه خپل زړه کې وساتئ.په ساتلوکې یې ډیره پاملرنه وکړئ.ستاسې غوږونه سترګې اوستاسې زړه تل په دې تصویرونو راټول وي.

داپه مخ کې کیږدئ اوپه خپل ژوند نظر واچوئ خپله کړنلاره وګورئ,دخپلو کړو وړو ننداره وکړئ, ددې لپاره یې فرمایلي **( لقد کان لکم فی رسول الله اسوة حسنة)** ترجمه : ټوله ښکلا او جمال دهغه پیغمبر

صلی الله علیه وسلم په ژوند کې دی.هغه چې دښکلا په لټه کې دی, هغوی دې د ښکلا کچکول په لاس واخلي اودهغه په ژوند پسې دې روان شي.

داد حسن اوجمال بیان ددې لپاره نه دی چې یوازې واوریدل شي یا ولیکل شي او مونږ ورته واه واه وکړو. جذباتو کې ګرمي راشي او په سترګو کې اوښکې خو زمونږ په ژوند کې هیڅ تاثیر ونه لري مګر دا باید مونږ په خپل زړه کې جذب کړو, خپل ځان دهغه په چوکاټ کې په ځایولو بوخت کړو او په رنګ کې یې رنګ شو، هغه زمونږ په ژوند کې مقصد شي اود همغه کړه وړه اوادا ګاني زمونږ شي چې دا اسوه په هره برخه کې ښکاري. اوس تاسو پوښتلای شئ چې هغه کومه طریقه ده چې پرې زمونږه په زړه کې دومره شوق او عزم او دومره حوصله ,دومره همت او استعداد پیدا شي چې مونږه ددې عالي اسوې پیروي وکړو. ستاسو ددې سوال ځواب په دې آیت شریف کې موجود دی (ولکم في رسول الله اسوة حسنة ) دهغه چالپاره چې دالله او آخرت په تمه وي.اوالله په کثرت سره یادوي. دالله په کثرت سره یادول اودآخرت تمه دادوه څیزونه تاسې لره دي. ستا سې لاره اسانه ده.دلته په الله او داخرت په ورځ د ایمان راوړل مقصد دی. بلکې د(یرجو) لفظ دی چې قول اواقرار ته ضرورت نشته. هغه ایمان ته اړتیا ده چې دژوند ټولې هیلې اوارزو ګانې, ټول مقصدونه اوټولې هلې ځلې په الله او آخرت پورې وترې.

تاسې چې دسیرت بیان څومره واورئ او ولولئ ,خپل ټول امیدونه له دنیا سره دشلولو اوپه الله اودآخرت په ورځې پورې له ټرلو پرته او په کثرت سره دالله دیادولو پرته،اړین عزم ,حوصله او جذبه نشئ موندلی، دالله ذکر معنی ډیره پراخه ده، دالله تسبیح،حمد ،تکبیر، شکر، دوحدانیت اقراراواعلان، دهغه په وړاندې دریدل، دهغه په لاره کې خرچ کول، دهغه په خاطر وږې تږی اوسیدل،دهغه دکور نه طواف کول، داټول دالله ذکر مختلف اړخونه دي. دالله ذکر یوه اهمه معنیٰ داده چې تاسې انسانان دالله





بنده ګی ته راوبولئ. اودا پیغام خلکو ته ورسوئ.ددې دین تبلیغ وکړئ او په لاره کې یې قرباني ورکړئ.

حضرت موسیٰ علیه السلام دفرعون دربار ته راغی. او هغه ته داذمه واري ورکړل شوې وه چې ددې جابر پاچا په دربار کې ودریږي اوهغه ته دالله دبندګي دعوت ورکړي. او دالله بنده ګان دهغه له غلامی نه وژغوري.

هغه مهال نوموړي د خپلې ژبې دبندیدو او کم زورۍ اظهار وکړ.

اوویې ویل : زما سینه خلاصه کړې زما کار ماته اسانه کړې, زما دژبې غوټه پرانیزې چې خلك زما په خبره وپوهیږي.او بیا یې وویل : چې مونږ ه په زیاته پیمانه ستا پاکي بیان کړو دښکاره خبره ده چې کوم ګوښي ځای ته دتسبیح لپاره نه تلو، بلکې دیوه ظالم پاچاپه دربار کې دالله ددعوت په کار پسې تلو. او ددې کار لپاره یې دذکر الفاظ وکارول.

دارنګه چې الله تعالی ورته خطاب وکړ ویې فرمایل : ګوره چې داسې ونه شي چې زما په یاد کې غفلت وکړئ. دلته هم دذکر لفظ دی چې صاف صاف دالله ددعوت په معنی راغلی دی.

اوپه یوبل ځای کې غور وکړئ د الله تعالی دذکر سره یې خپل بهترین زیری ترلی دی.او فرمایلي یې دي ( فا ذکروني اذکرکم) ژباړه : ته ما یاد کړه زه به تا یاد کړم.

دا آیت په ډیره ښکلې توګه دقرآن د دوو حصوترمنځ راغلی دی.

لمړی برخه هغه ده چې چیرته دقبلې دبدلیدو حکم دی.

داددې علامه وه چې تاسو په دنیا کې دیو نوي مسلمان امت توګه منځ ته راځئ.

چې دالله لورته ددعوت توغ به اوچتوئ. بیا یې فرمایلي دي چې رسول الله صل الله علیه وسلم ددې لپاره رالیږل شوی چې کتاب تلاوت کړي، دخلکو تزکیه وکړي او هغوی ته دحکمت تعلیم ورکړي.

له دې وروسته دوهمه برخه ده. پکې فرمایل شوي دي چې (استعینوا بالصبروالصلوة) ژباړه :په صبر اولمانځه سره مرسته وغواړئ او بیا یې دالله په لاره کې وژل شوي مړه ګڼل منع شول.

له دې وروسته يې وويل چې مونږه تاسې د ويرې، لوږې، په کرهڼه کې د زيان او دمال او ځان په زيان ازمايو. ددې دواړو آيتونو ترمنځ يې دا آيت شريف ځای کړ. چې ( که ته ما يادوې زه به تا يادوم او شکر کوه ناشکري مه کوه).

ددې لپاره ما تاسې ته دهدايت ورپرانيستی دی او په دې لاره دتلو توفيق مې درکړی اوپدې دروازې دننوتلو خوشالي مې درکړې، دازما احسان دی داسی ونه شي چې دا هير کړئ او ناشکري وکړئ.

او ما ياد کړئ داسې ياد چې په لاره کې يې ازمايښتونه راځي او صبر ته اړتيا وي).

له بل لوري غور وکړئ.

په غارحراء کې لومړی وحی چې د اقرأ پيغام يې ورکړ نازله شوه.

دوهمه وحی راغله ( قم فانذر ) ژباړه : (ودريږئ او خلك تنبيه کړئ) حکم يې راوړ.

له دې وړاندې چې دلمانځه ، روژې،زکات ،حج اواسلام نورو احکامو په اړه وحی راشي،لومړی حکم داراغی چې ولوله چې دالله له حکم نه خبر شي او دوهم داراغی چې ودريږه او خلك دالله ددين په لور راوبوله او هغوی خبردار کړه.

له دې څخه دا څرګنده شوه چې ددعوت فريضه په هيڅ حالت لرې کيدونکې نه ده.اوحقيقت دادی چې په اسوه کې ترټولو غالب شی دادی:چې محمد صلی الله عليه وسلم ودريده اودخپل قوم خبرول او دالله لوري ته رابلل يې پيل کړل او دالله دکبريايي هڅې يې پيل کړې.

داسوه حسنه داتصوير تاسې ته نارې وهي او دعوت درکوي ستاسې په چاپيريال، ښار، کلي ،ښوونځي، دفتر، کارخانې ،کور او خاندان کې هلته چې دالله پيغام نه دی رسيدلی تاسې مسئول ياست چې هلته پيغام ورسوئ.

له دوی نه هريو دقيامت په ورځ تاسې له ګريوان نه رانيولی شي, چې داهغه سړی دی چې د الله له پيغامه خبرولو او دخپرولو دعوه يې هم کوله. زمونږ په ده حق وو خو ده زمونږ حق مونږ ته راونه رساوه.





ددعوت الی الله دمسئوليت داشديد احساس درکې پيدا کړئ. شپه او ورځ په فکر کې واوسئ. په ډيره مينه کار وکړئ. له خپل رب سره مينه وکړئ.

دهغه له رسول صلی الله عليه وسلم سره مينه وکړئ. دهغه په لاره تلونکو سره مينه وکړئ. دخپل رب دمخلوق سره مينه وکړئ. داڅنګه کيدای شي چې تاسې ددعوت لپاره پاڅئ او دملك په ګوټ ګوټ کې خپور نشي.

الله تعالی دې مونږ ته د رسول لله په لاره دتلو وس راکړي.

آمين

پای




دا کتاب له اصلاح انلاین څه ډانلوډ شوی دی